د مَدَني مرکزونو (فېضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 20 نومبر، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 9 جمادي الآخر، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

ضد او هټ دهرمي [پۀ خپله خبره کلک ودرېدل]

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د نېکئ د دعوت يو اهم مقصد
- د دوو سترګو والا دوزخي څټ
- آيا ستا پۀ شان اِنسان به اوس ما پوهه کوي؟
- د عرش د سوري طرف ته زر تلونکے

پېشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

د اَربعينِ عطّار، قسط: 2، صفحه: 12، حديثِ پاک نمبر: 12 دے:

لَيَرِدَنَّ الْحَوْضَ عَلَيَّ اَقْوَامٌ مَا اَعْرِفُهُمْ اِلَّا بِكَثْرَةِ الصَّلَاةِ عَلَيَّ

ترجمه: پۀ حوضِ کوثر به ما ته داسې قامونه مېلاؤېږي، کوم چې به د ډېر درودِ پاک لوستلو پۀ وجه زۀ پېژنم- [1]

اے دین حق کے رہبر تم پر سلام ہر دم
میرے شفیعِ محشر تم پر سلام ہر دم
کوئی نہیں ہمارا ہم کس کے دَر پہ جائیں
اے بیکسوں کے یاوَر تم پر سلام ہر دم
اپنے گدائے دَر کی لیجے خبر خدارا
کیجے کرم حسنؔ پر تم پر سلام ہر دم[2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... القول البديع، الباب الثانی فی ثواب الصلاة علی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:129۔
[2]... ذوقِ نعت، صفحه:168، 169 ملتقطًا۔

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْكَرِیْم (الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي):

اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ یُّؤْمِنُوْا لَكُمْ وَ قَدْ كَانَ فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ یَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ یُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَ هُمْ یَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 75)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو اے مسلمانانو! آیا تاسو دا اُمید ساتئ چې دوئي به ستاسو له وجې اِیمان راوړي حالانکې پۀ هغوئي کښې یوه ډله هغه وه چې هغوئي به د الله کلام اورېدلو او بیا پۀ هغې د پوهېدلو باوجود به یې قصداً بدلولو۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د وړومبۍ سیپارې، د سُورۂ بقره د آیت: 75 د اورېدو سعادت حاصل کړو۔ مخکښې عرض کړے شوي وو چې پۀ وړومبۍ سیپاره کښې د آیت: 40 نه تر اخره پورې بني اِسرائیلو ته خطاب دے۔

بني اِسرائیل یعنې د الله پاک د نبي حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام اولاد۔ حضرت یُوسُف عَلَیْہِ السَّلَام او د هغوئي کوم 11 وروڼه چې وو، د هغوئي او د هغوئي نه وروستو چې کوم اولاد را روان دے، هُغه ټولو ته **بني اِسرائیل** وئیلے کېږي۔

د دې تقریباً د 100 آیتونو دریځ حصې (***Parts***) دي: (1): پۀ وړومبۍ حصه کښې د هُغه بني اِسرائیلو کوم چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو نه مخکښې پۀ دې دُنیا کښې وو، د هغوئي د بدو، نافرمانو او د سرکشۍ

ذِکر دے (2): پۀ دوېمه حصه کښې د هٰغه بني اِسرائيلو ذِکر دے، کوم چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ظاهري ژوند مبارک کښې موجود وو (3): پۀ درېمه حصه کښې د بني اِسرائيلو له خوا پۀ اِسلام د شوو اِعتراضونو جوابونه دي-

د آيت: 75 نه دوېمه حصه شروع کېږي، يعني د دې نه پۀ مخکښينو آيتونو کښې د مخکښينې زمانې د بني اِسرائيلو ذِکر وو، اوس دلته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ظاهري ژوند مبارک کښې د موجودو بني اِسرائيلو د نافرمانو ذِکر شروع کېږي-

د آيت مبارک مختصر وضاحت

پۀ روايتونو کښې دي: کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هجرت اوکړو او مدينې منورې ته يې تشريف راوړلو، هٰغه وخت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دلته موجودو بني اِسرائيلو ته د اِسلام دعوت ورکړو او هغوئي يې د الله پاک د کتاب طرف ته راوبلل خو پۀ هغوئي کښې ډېرو بد نصيبو د الله پاک د کتاب او د حق دِين نه اِنکار شروع کړو- [1] پۀ دې باندې دا آيت مبارک نازل شو، الله پاک وفرمائيل:

اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ

(پاره: 1، سورۂ بقره: 75)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو اے مسلمانانو! آيا تاسو دا اُمېد ساتئ چې دوئي به ستاسو له وجې اِيمان راوړي-

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او اے زما د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۂ

[1]... تفسير کبير، پاره: 1، سورۂ بقرة، زيرِ آيت: 75، جلد: 1، صفحه: 559-

کرامو [رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم] --!! آیا تاسو اُمېد لرئ چې دا بني اِسرائیل به ستاسو تبلیغ واوري، د هغې پۀ منلو به اِسلام قبول کړي؟ د دوئي نه دا طمع مۀ ساتئ! ځکه چې دا سرکشه قام دے-

وَ قَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَ هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 75)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: حالانکې پۀ هغوئي کښې یوه ډله هغه وه چې هغوئي به د الله کلام اورېدلو او بیا پۀ هغې د پوهېدلو باوجود به یې قصداً بدلولو-

یعنې پۀ دوئي کښې یوه ډله داسې هم ده چې هغوئي د الله پاک کلام یعنې تورات شریف لولي، اوري، پۀ هغې پوهېږي بیا قصداً عمداً پۀ هغې کښې بدلون کوي- کله چې د هغوئي حالت داسې دے نو دوئي به اِیمان د کوم ځائے نه راوړي، ځکه تاسو د دوئي نه د اِیمان طمع مۀ لرئ--!! (1)

(1): د نېک جوړولو حِرص

علمائے کرام فرمائي: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د صحابۂ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ډېر خواهش وو چې بني اِسرائیل کلمه ووائي او د جَنَّت حقدار جوړ شي خو دوئي به چې کله دا اِیمان نۀ قبلولو، د حق بالکل واضحه کېدو باوجود به یې هم نۀ منلو نو دا د اوچتې مرتبې حضرات به ډېر خفه او غمژن کېدل، پۀ دې آیت کښې هغوئي له تسلي ورکړے شوه چې د غم کولو خبره نۀ ده، ستاسو تبلیغ ښه دے، د پوهه کولو طریقه

---

[1]... تفسیر بیضاوی مع حاشیۃ شیخ زادہ، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:75، جلد:2، صفحہ:116و118۔

ښه ده، قصور د هغوئي دے چې پۀ هغوئي کښې د حق منلو صلاحيت نشته ۔ [1]

د دې ځائے نه معلومېږي چې صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان د نېکۍ د دعوت ډېر حرص لرلو، د هغوئي به ډېر ارمان وو چې لکه څنګه مونږ کلمه ووئيله او مسلمانان شو، هم داسې باقي نور خلق هم کلمه ووائي، کله چې به خلقو حق خبره نۀ منله نو پۀ دې باندې به ډېر غمژن کېدل هم۔ کاش چې زمونږه هم داسې حِرص نصيب شي۔

يقين اوکړئ چې زمونږه پۀ معاشره (**Society**) کښې د بدو عام کېدو يوه لويه وجه دا هم ده چې پۀ مونږ کښې د نېک جوړولو حرص نۀ دے پاتې ❖ پخپله نـمونځ کوو خو د بې نـمانځو پۀ ليدلو نۀ خفه کېږو، دا حرص نۀ پېدا کېږي چې دوئي هم نـمونځ ګزاره جوړ کړو ❖ پخپله تِلاوت کوو خو پۀ کور کښې ماشومان، ښځه وغېره تِلاوت نۀ کوي، پۀ دې باندې نۀ خفه کېږو ❖ پخپله سندرې سازونه نۀ اورو، ښه خبره ده خو د سندرو سازونو اورېدونکو پۀ ليدلو نۀ خفه کېږو، پۀ دکانونو کښې، پۀ ګاډو کښې، پۀ هوټلو کښې سندرې سازونه (**Music**) غږېږي، هغوئي له د نېکۍ د دعوت ورکولو همت نۀ کېږي۔

دا چې کومه پۀ مونږ کښې يوه کمزوري راغلې ده چې **د نېک جوړولو جذبه** کمه شوې ده، **د نېکۍ د دعوت** ورکولو رجحان ختمېږي، د الله پاک پۀ نافرمانۍ ليدلو هم زړۀ نۀ خفه کېږي، د دې بدۍ پۀ وجه زړګونه بدۍ پېدا کېږي۔

---

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:75، جلد:1، صفحہ:482 مفصلاً۔

د کشتۍ مسافر

د دوارو جهانو د مالک او مختار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د حُدُودُ الله نه د اغوښتونکو (يعني د الله پاک د حکمونو ماتوونکو) او پۀ دې معامله کښې د مداهنت د ښکار کېدونکو (يعني د وَس لرلو باوجود د بدۍ نه د نۀ منع کوونکو) مثال داسې دے چې ځينې خلق دي، هغوئي پۀ کشتۍ کښې کښناستل، پۀ خپل مينځ کښې يې خسنے وويشتو، بيا ځينې د کشتۍ بره حصې ته لاړل، ځينې پۀ ښکته حصه کښې پاتې شول- بيا د ښکته نه يو ګس د بره حصې نه اوبه راوړي، د هغې سره بره والۀ ته تکليف وي، نو دې ښکته والا ګس تبر راواخستو او د کشتۍ پۀ لاندنۍ حصه کښې يې سورے ويستل شروع کړو، د بره حصې والا راغلل، پوښتنه يې اوکړه: هله! دا څۀ کوې؟ د تبر والا ګس ووئيل: زما اوبه پکار دي او تاسو ته پۀ اوبو را کولو کښې تکليف وي، ځکه زۀ سورے اوباسم او د سمندر نه اوبه راخلم- خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: که دا خلق د هغه د لاس نه تبر واخلي نو ټول به بچ شي، که چرې هغه سوري کولو ته پرېږدي نو (کشتۍ به د اوبو نه ډکه شي او) ټول به ډوب شي او هلاک به شي- [1]

د ګناهونو سپېرۀ والے نور هم د ځان سره راکښروي

د دې حديثِ پاک لاندې پۀ مِرآۃُ المَناجِيح کښې دي: پۀ دې حديث شريف کښې د يو مثال پۀ ذريعه د ګناه نه د منع کولو او د نېکۍ د حکم ورکولو اهميت واضحه کړے شوےدے چې که چرې پۀ دې ګمان اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ (يعني د نېکۍ د دعوت ورکولو او د ګناه نه د منع کولو) فرض پرېښودے شي چې ګناه کوونکے پخپله خپل نقصان

---

[1]... بخاری، کتاب الشهادات، باب القرعة فی المشکلات، صفحه:692، حدیث:2686۔

کوي، زمونږ څۀ نقصان دے! نو دا سوچ غلط دے، ځکه چې د هغه د ګناهونو اثرات معاشره پۀ خپله ګيره کښې اخلي، لکه څنګه چې د کشتۍ ماتوونکے يواځې نۀ ډوبېږي بلکې هٰغه ټول خلق ډوبېږي کوم چې پۀ کشتۍ کښې ناست دي، دغه شان د ګناهونو کوونکو يو څو کسانو دا جرم د ټولې معاشرې دپاره ناسور جوړېږي۔ [1]

راځئ چې پۀ دربار رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې سوال اوکړو:

عطا کر دو مجھے اِسلام کی تبلیغ کا جذبہ
مَیں بس دیتا پھروں نیکی کی دَعوت یارسولَ اللہ!
مجھے تم مَسلکِ اَحمد رَضا پر اِستقامت دو
بنوں خِدمت گُزارِ اَہلِ سُنّت یارسولَ اللہ!(2)

د نېکۍ د دعوت يو اهم مقصد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته د خلقو دا ذِهن وي چې؛

جو مانتا نہیں، اُسے کہنا فضول ہے

دا غلطه خبره ده، مونږ له تعليم راکړے شوے دے چې هٰغه ګس د کوم چې هډو د منلو بالکل اُمېد هم پاتې نۀ شي، د نېکۍ دعوت هغه له هم ورکول پکار دي د پاره د دې چې پۀ هغه باندې دليل پوره شي- **پۀ قرآنِ کريم کښې دي:** هٰغه خلق کومو چې به ډېرو ضديانو او تېغ سترګو خلقو له هم د نېکۍ دعوت ورکولو، هغوئ ته ووئيلے شو:

---

[1]... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:533۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:333 و 334 ملتقطًا۔

لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ

(پارہ:9، سورۂ اَعْرَاف:164)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: تاسو هٰغه خلقو ته ولې نصیحت کوئ کومو لره چې الله هلاک کوونکے دے یا هغوئ لره سخت عذاب ورکوونکے دے؟

یعنې دا ضدیان او تغ سترګي خلق کومو چې خبره هډو منلې نۀ ده، نېغې لارې ته هډو راځي نۀ، پۀ هغوئ باندې به خامخا عذاب نازلېږي، داسې ضدي قام ولې پوهه کوئ؟ پۀ هغوئ باندې خپل وخت ولې بربادوئ؟ مُبَلِّغینو جواب ورکړو:

مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ

(پارہ:9، سورۂ اَعْرَاف:164)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: ستاسو د رَبّ پۀ بارګاه کښې د عُذر وړاندې کولو د پاره-

یعنې که دوئ یې منې او که نۀ منې، زمونږه کار دے د نېکۍ دعوت ورکول، که چرې وه یې منې نو د د هغوي خیر دے پکښې ،که نۀ یې منې نو مونږ به کم از کم د خپل رَبّ پۀ حُضُور کښې دا عُذر خو پېش کولے شو چې مولیٰ! مونږ پوهه کړي وو-

دا هم د نېکۍ د دعوت ورکولو یو مقصد دے چې مونږ د نېکۍ دعوت ورکړو، مونږه پوهه کړو، زمونږه فرض پوره شو، اوس هغه ګس پوهه شه او د هغه کار- ځکه هٰغه خلق د کوم چې د نېکۍ د کار نه زړۀ مړېږي، مثلاً پرېږده مړه! چې څوک یې منې نۀ نو څۀ فائده! د خپل وخت لګولو څۀ فائده- داسې خلقو له پکار دي چې د دې ځائے نه عبرت حاصل کړي، د نېکۍ کار چرې هم مۀ ودروئ- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق را عطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بني اِسرائيلو ضد او هټ دهرمي[پۀ خپله خبره کلک ودرېدل]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

وَ قَدْ كَانَ فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ یَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ یُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَ هُمْ یَعْلَمُوْنَ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 75)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: حالانکې پۀ هغوئي کښې یوه ډله هغه وه چې هغوئي به د الله کلام اورېدلو او بیا پۀ هغې د پوهېدلو باوجود به یې قصداً بدلولو-

دا د بني اِسرائیلو یو عیب دے، یعنې صحابۂ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان ته ووئیلے شو چې تاسو د دوئي د اِیمان راوړلو اُمید مۀ ساتئ---!! د دې څۀ وجه ده؟ سبب څۀ دے؟ فرمائي: ځکه چې دوئي د حق خبرې نه خبر هم دي، پۀ هغې پۀ ښه طریقه باندې پوهېږي هم ❖ بیا هم د عِنادِ حق یعنې د حق سره د دښمنۍ پۀ وجه ❖ د خپلې اَنا پرستۍ پۀ وجه حق خبرې منلو ته نۀ تیارېږي او څوک چې د داسې طبیعت والا وي، څوک چې د حق سره دښمني لرونکے وي، پۀ هغه باندې هیڅ خبره اثر نۀ کوي-

د بني اِسرائیلو د ضد یو مثال

پۀ روایتونو کښې دي: کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هجرت اوکړو او مدینې منورې ته یې تشریف راوړلو نو هٰغه وخت د بني اِسرائیلو د ټولو نه لوئي عالِم حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دربار رسالت ته حاضر شو، څنګه چې یې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک زیارت اوکړو نو وه یې پېژندلو چې اَنَّ

وَجْهَهٗ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ بے شکه دا مخ د دروغژن مخ نشي کېدے- [1] نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت پۀ دعوىٰ کښې يقيناً چې رښتونے دے- نو حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کلمه ووئيله او مسلمان شو-

هغوئي د کلمې وئيلو نه پس عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بني اِسرائيل دېر ضدي قام دے، که چرې زما اِيمان قبلول پۀ هغوئي باندې داسې واضحه کړے شول نو ما ته به ردې بدې وائي، پۀ ما باندې به قِسما قِسم تورونه لګوي-

بيا رسولِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ اوکړل چې حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ يې پټ کړو او د هغوئي پۀ غېر موجودګي کښې يې د بني اِسرائيلو نه پوښتنه اوکړه: ووايئ چې عبد الله بن سلام څنګه اِنسان دے---؟ وه يې وئيل: واه---! واه! د هغوئي څومره اوچت شان دے، هغوئي زمونږ د ټولو نه لوئي عالِم دے، هغوئي خو زمونږ شان دے، زمونږ د ټول قام سرمايه ده-

بيا حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ مخې ته تشريف راوړلو او وه يې وئيل: زۀ ګواهي ورکووم چې مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک رښتونے رسول دے- بس دومره اورېدل وو چې بني اِسرائيل پۀ لږ ساعت کښې د خپلې خبرې نه پشا شول، وه يې وئيل: آؤ! آؤ! دے خو دے هم داسې، دے پخپله هم دېر خراب دے او د دوئي پلار هم دېر خراب وو- [2]

---

[1]... ابن ماجه، کتاب الاطعمة، باب اطعام الطعام، صفحه:530، حديث:3251-

[2]... بخاری، کتاب التفسير، باب قوله من کان عدو لجبريل، صفحه:1111، حديث:4480 خلاصةً-

الله! الله! دا دے د بني اِسرائيلو ضد، هټ دهرمي ، عِناد، د حق سره دښمني او اَنَا پرستي- اوس ووايئ چې کله د اِنسان حالت داسې وي نو پۀ هغه باندې حق خبره اثر څنګه کولے شي---؟

د دې نه معلومه شوه چې عِنَادِ حق (يعني د حق سره دښمني) او اَنَا پرستي ډېرې بدې بيمارياني دي، دا چې د کوم اِنسان پۀ زړۀ کښې وي نو هغه ګمراه کوي، داسې ضدي يې جوړوي چې اِنسان پۀ ښکاره سترګو پۀ معجزو ليدلو هم ګمراه پاتې کېږي- ځکه مونږ له پکار دي چې د اَنَا پرستي او عِنادِ حق نه خپل ځان پاک او صفا وساتو-

عِنادِ حق [د حق سره دښمني] څۀ ته وئيلے کېږي---؟

د يوې دِيني خبرې د صحيح منلو باوجود د ضد پۀ وجه د هغې مخالفت کولو ته عِنَادِ حق (د حق سره دښمني) وئيلے کېږي- [1] الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۲۴﴾

(پارہ:26، سورۂ قٓ:24)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: (حُکم به اوشي) تاسو دواړه هر لوئي نا شُکره سرکشه پۀ دوزخ کښې واچوئ-

يعني د قيامت پۀ ورځ باندې چې به کله د حشر مېدان ته رسېږي نو فرښتو ته به حُکم کېږي: دا چې کوم نا شُکره ضديان کافران دي، دوئي ټول دوزخ ته وغورځوئ---!!

د 2 سترګو والا دوزخي څټ

د حضرت ابو هرېره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې حضور نبي کريم، رؤف رحيم صَلَّی اللّٰہُ

---

[1]... حديقة الندية، الخلق الثانی والخمسون...الخ، جلد:2، صفحه:162۔

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د قيامت پۀ ورځ به د دوزخ د وور نه يوه څټ راويستلے شي، پۀ هغې کښې به دوه سترګې وي پۀ کومو چې به هغه ليدل کوي، دوه غوږونه به يې وي، پۀ کومو چې به هغه اورېدل کوي، يوه ژبه به يې هم وي، پۀ کومه به چې هغه خبرې کوي او هغه به وائي: زۀ درې قِسمه خلقو له د عذاب ورکولو د پاره مسلط کړے شوې يم ❖ پۀ سرکشه او ضدي باندې ❖ څوک چې د الله پاک سره غېرُ الله شريک کړي ❖ او پۀ تصويرونو جوړونکو باندې۔ [1]

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې دا څومره سخته سزا ده، کوم چې ضديان دي، هغوئ به د قيامت پۀ ورځ راښکلے کېږي او دوزخ ته به غورځولے کېږي، پۀ هغوئ باندې به د دوزخ وور مسلط کړے کېږي۔ مونږ له پکار دي چې د ضد نه ډډه اوکړو، کله چې معلومه شي چې ❖ دا د دِين حُکم دے ❖ قرآنِ کريم مونږ ته دا حُکم کړے دے ❖ پۀ حديثِ پاک کښې دا حُکم راغلے دے ❖ شريعت دا فرمائيلي دي، بس بيا پۀ هغې باندې عمل کوئ، هغې ته سر ټيټ کړئ، ضد پرېږدئ۔

د تکبر او عاجزيِ قِسمونه

يوه معلوماتي خبره اوکړم: د تکبر او د عاجزيِ دوه قِسمونه دي۔ اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې وضاحت کړے دے، فرمائي: تکبر هم دوه قِسمه وي او عاجزي هم دوه قِسمه وي۔

(1): يوه ده: تواضُعِ عام (يعنې عامه عاجزي)۔ مثلاً پۀ معمولي جامو، عامه شان سورليِ وغېره

---

[1]... ترمذی، کتاب صفة جهنم، باب ما جاء فی صفة النار، صفحه:607، حدیث:2573۔

باندې صبر کول، دا عامه عاجزي ده- خپل ځان د دې نه د زيات اهل ګڼل (مثلاً ځان د نورو نه لوئي او نور د ځان نه سپک ګڼل) دا عام تکبر دے-

(2): دوېمه ده: خاص تواضُع (يعنې خاص عاجزي)- دا څۀ ده: ځان د حق خبرې د قبلولو عادي جوړول- او د دې اُلټا چې کوم دي يعنې د حق خبرې نه ډډه کول، ځان د دې نه اوچت او لوئي ګڼل، دا خاص تکبر دے- [1]

د ضد کولو مثالونه

افسوس چې نن سبا دلته هم ضد (يعنې دا خاص تکبر کوم چې دے، دا) روان دے زياتېږي ❖ څومره داسې خلق دي کوم چې حق خبرې اورېدو ته تيارېږي هم نۀ، اوري يې خو منلو ته يې تيارېږي نۀ ❖ د نېکۍ د دعوت پۀ اورېدو حيلې بانې کوي ❖ د وړو وړو خبرو نه د خپلې اَنا مسئله جوړول عام دي ❖ ډېر خلق دي کوم چې نصيحت کول خپل سپکاوے ګڼي ❖ پۀ کورونو کښې چې وګورې نو د جينې کور والا، د هلک يا د هغه کور والا نۀ شي پوهه کولے ❖ د وړوکي خاندان والا د لوئي خاندان والا نۀ شي پوهه کولے ❖ عام اِنسان څوک لوئي انسان نۀ شي پوهه کولے ❖ عوام څۀ د دُنيائي منصب والا نۀ شي پوهه کولے ❖ پۀ جوماتونو کښې څوک ځوان عالِم يا دِيني مُبَلِّغ مشر بوډا نۀ شي پوهه کولے، خلق پۀ پوهه کولو غصه کېږي، د نېکۍ د دعوت نه د خپلې اَنَا مسئله جوړوي، خطره وي چې که زۀ ښه خبره اوکړم نو هسې نه چې مخامخ ګس راسره جګړه

---

[1]... منهاج العابدين، العقبة الثالثة، تقوى الاعضاء الخمسة، الفصل الرابع، صفحه:197و198 خلاصةً۔

اونکړي- ❖ يو ځل يو اِمام صاحب د جَمعې کولو نه مخکښې اِعلان اوکړو چې واړۀ ماشومان پۀ صفونو کښې مۀ ودروئ! د وړو ماشومانو صف د ټولو نه پۀ اخره کښې جوړ کړئ! يو ګس د خپل وړوکي ځوي سره پۀ وړومبي صف کښې ولا ړ وو، څنګه چې هغه د اِمام صاحب اعلان واودرېدو نو پۀ تېز اواز يې ووئيل: ولې---؟ ماشومان ولې وروستو کړو؟ د دوي څۀ قصور دے؟

اوس ووايئ چې پۀ دې کښې د اِمام صاحب څۀ دي، د وړو ماشومانو صف پۀ اخره کښې د جوړولو حُکم شريعت ورکړے دے- مونږ له پکار دي چې حُکم اومنو ❖ يو ګس چرته خوراک ته ناست وو، ورسره پۀ خوا کښې يو د عِلم والا هم وو، پۀ دسترخوان باندې لرے کېښودے شو، هٰغه د عِلم والا پۀ خپل خوا کښې ناست ګس ته ووئيل: لرے خوړل مکروه دي، دا مۀ خورئ- بيا چې کوم پۀ خوا کښې ګس ناست وو، هغه څۀ اوکړل، رکېبۍ (**Plate**) يې خپلې مخې ته راښکله، خوراک هم کوي او ورسره ورسره د هٰغه عِلم والا نه پوښتنه کوي: ها---!! واقعي؟ د لري خوړل مکروه دي؟ د دې څۀ دليل دے؟ پۀ کوم حديث کښې راغلي دي؟

اَلاَمَانُ وَالحَفِيظُ---!! دا دے عِناد- ضد - دا عادت مونږ له د خپل ځان نه ويستل پکار دي- حق خبره چې کله هم مونږ ته اوکړے شي نو چې سمدستي يې قبوله کړو- پۀ عمل کښې کمزوري ښکله خبره ده، د حق خبرې پۀ اورېدو غصه کېدل، د هغې د قبلولو پۀ ځائے اُلټا پوهه کوونکي ته خبرې شروع کول، دا خراب عادت دے- نن سبا دا انداز هم عام کېږي، کله چې څوک د نېکۍ دعوت ورکوي نو خلق د هغه پۀ ذات کښې عېبونه راويستل

شروع کړي، مثلاً ❖ آؤ! آؤ! تۀ داسې حاجي راغلے يې---!! ❖ تۀ به اوس مونږ پوهه کوې ❖ ستا پۀ شان مې ډېر ليدلي دي ❖ ځينې بے باکه خو د دې پورې وائي چې مولانا---!! خپله لار ونيسه! مونږه پوهه شه او الله پوهه شه-

آيا ستا پۀ شان اِنسان به اوس ما پوهه کوي---؟

لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّۃَ اِلَّا بِاللہ...!! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ډېره سخته جُمله ده- داسې خبرې هيڅکله هم پۀ ژبه راوستل نۀ دي پکار---!! صحابئ رسول حضرت عبدُ الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د الله پاک پۀ نزد پۀ لوئي ګناهونو کښې يوه دا هم ده چې کله چا ته ووئيلے شي چې د الله پاک نه وېرېږه! نو هغه ورته ووائي: تۀ خپل فِکر کوه---!! آيا ستا پۀ شان اِنسان به ما ته حُکم کوي؟ [1]

الله! الله! اندازه ولګوئ چې دا څومره سخت جُرم دے- دلته خو داسې خبرې عامې دي- خلق د نېکئ دعوت ورکوونکي ته ډېر زړور وائي چې ځه! وروره خپل کار کوه---!! مونږ له ليکچر مۀ راکوه---!!

د آنَا مسئله جوړول

يو مُنَافِق وو: اَخنَس بِن شُرَيق- پۀ قرآنِ کريم کښې دا د هغه خراب صفت بيان شوے دے چې

---

[1] ... معجم کبیر، من اسمہ عبد اللہ، جلد:4، صفحہ:469، حدیث:8508۔

وَاِذَا قِیْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ (پاره:2، سورۀ بقره:206)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او چې کله هغه ته ووئیلے شي چې د الله نه وېرېږه نو هغه خپل ضد نور ګناه ته راپاروي-

یعنې دا منافق دومره د سخت زړۀ او بد باطنه دے چې کله څوک مسلمان هغه پوهه کوي، د نېکۍ دعوت ورکوي، ورته وائي چې د ګناهونو نه منع شه---!! د الله پاک نه وېرېږه! نو د هغه دروغژن عزت هغه نور هم پۀ ډېرو ګناهونو راپاروي، دے د خبرې منلو پۀ ځائے وائي: ما عزت مند ته دې معمولي مسلمان نصیحت اوکړو، اوس خو به زۀ دوچنده (Double) ګناه کووم- [1]

د دې منافق بد بخته سزا څۀ ده؟ دا هم واورئ! الله پاک فرمائي:

فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ (پاره:2، سورۀ بقره:206)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو داسې ګس له دوزخ کافي دے، او هغه ضرور ډېر بد د اوسېدلو ځائے دے-

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آیت لاندې فرمائي: بد ترین ګس هغه دے کوم چې د نصیحت خبره واوري او اُلټا ضد شروع کړي- پۀ **حدیث شریف** کښې دي ته کبیره [یعنې لویه] ګناه فرمائیلے شوې ده- [2]

---

[1]... تفسیر طبری، پاره:2، سورۀ بقرة، زیرِ آیت:206، جلد:2، صفحه:331و332 بتغیر قلیل۔

[2]... تفسیر نعیمی، پاره:2، سورۀ بقرة، زیرِ آیت:206، جلد:2، صفحه:335۔

پۀ غلطۍ کلک ودرېدل

پۀ خلقو کښې يو عادت دا هم زياتېږي چې د خپلې غلطۍ د منلو پۀ ځائے پۀ هغې باندې کلک ودرېږي، دا ورته معلومه هم وي چې زما نه غلطي شوې ده، بيا هم د خپل عزت پۀ وجه، د نفس او د شېطان پۀ ګېره کښې راګېر شي او د خپلې غلطۍ خبرې پۀ دليلونو د صحيح ثابتولو کوشش شروع کړي- دا هم ډېر خراب عادت دے- وګورئ! که چرې مونږ بيمار يو، نو که مونږ ډېر وايو چې زۀ بيمار نۀ يم، پۀ دې باندې دليلونه هم ورکوو نو آيا بيماري به ختمه شي؟ نۀ به ختمېږي- يو ګس وو، هغه ته د زړۀ دوره اوشوه، بعضې وخت چې اِنسان صحت مند وي نو دا هم ممکن ده چې هغه ته د زړۀ دوره (***Heart Attack***) ډېره سخته جټکه ور نۀ کړي، د هغه سره هم داسې وشول، د هغه پۀ سينه باندې سخت درد شو او بيا ټيک شو- دوستانو او خپلوانو يې ورته ووئيل: وروره---!! دا څۀ عام درد نۀ ښکاري، چيک اپ اوکړه! خو دے منلو ته تيار نۀ شو، د هغې نتېجه څۀ راغله چې يو څو ورځې پس پۀ هغه باندې بيا د زړۀ دوره راغله، بيا چې د ډاکټر خوا له لاړو نو معلومه شوه چې دا د زړۀ دويمه دوره وه، نو د هغه عِلاج شروع کړے شو خو بيا ناوخته شوے وو- خوار د ژوند نه لاس ووينځلو-

هم داسې د رُوحاني مرضونو (حسد، تکبر، بغض وغېره) حال هم دے، مونږ ډېر وايو چې زما نه غلطي نۀ ده شوې، ما چې څۀ کړي دي، هغه ټيک دي- که چرې هغه غلطي ده نو غلطي ده- زمونږه دليلونه هغه صحيح کولے نۀ شي- ځکه مونږ له غلطي منل پکار دي-

ياد ساتئ چې پۀ دُنيا کښې خو به پۀ چالاکۍ، پۀ حيلو بانو کولو، پۀ اخوا دېخوا

دليلونو ورکولو، پۀ زيات عمر، د طاقت، منصب وغېره پۀ وجه مخامخ ګس خو غلے کولے شئ، ځانله خو تسلي ورکولے شئ خو د قيامت پۀ ورځ به داسې نۀ شي کېدے، آه! د قيامت پۀ ورځ به د مجرمانو پۀ خُلو باندې مُهر لګولے شي او زمونږه خپل اندامونه به زمونږ خلاف ګواهي ورکوي، هُغه وخت به زمونږه چالاکي، طاقت او منصب هيڅ پۀ کار نۀ راځي-

آج بنتا ہوں معزّز جو کُھلے حَشر میں عَیب
آہ! رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یارَبّ![1]

يقين اوکړئ چې ضد دېره خطرناکه بيماري ده، څوک چې د غلطۍ سودونکي پۀ خبره اوريدو پۀ اِنصاف سره پۀ خپل کردار باندې غور نۀ کوي، هغه چرې هم خپله اِصلاح نۀ شي کولے- لږ غور خو اوکړئ چې د ابو جهل، عُتبَه او شَيبه پۀ شان بد ترينه غېر مسلمه به د جهالت پۀ زمانه کښې څومره عزت داره ګڼلے کېدل، هغوئ پۀ خپلو سترګو باندې معجزې وليدلې، کانې يې پۀ کلمه وئيلو وليدل، ونې يې پۀ سجده کولو وليدلې، سپوږمۍ يې پۀ دوه ټوټې کېدلو وليدله خو آه! بد بختي، دغه بد انجامو د ضد او جهالت لاره اِختيار کړله، اخر الله پاک د هغوئ پۀ زړونو باندې مُهر ولګولو او دوئ هم د کُفر پۀ حالت کښې مړه شول او د دوزخ خَشَاک ترې جوړ شو- پۀ وړومبۍ سيپاره، د سورة البقرة، پۀ آيت: 7 کښې د دغه اَزَلي غېر مسلمو پۀ باره کښې اِرشاد دے:

---

[1]... وسائل بخشش، صفحه:85۔

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَ عَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَ عَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۫ وَّ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۷﴾ (پاره:1، سورۀ بقره:7)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: الله د هغوئي پۀ زړونو او غوږونو مُهر لګولے دے او د هغوئي پۀ سترګو پردې پرتې دي او د هغوئي د پاره ډېر لوئي عذاب دے۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي:** د ضد عِلاج د یوعالِم سره هم نشته او د وهم دوائي د یو طبیب سره هم نشته، د چا چې د رَهبَر (یعني د اِصلاح کوونکي) د ذات سره دښمني وي، هغه د هغه د هرې خبرې نه اِنکار کوي۔ [1]

اے د خوبِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** غلطي منل بے عزتي نۀ بلکې د عزت خبره ده، معصومه (یعني د غلطی نه بالکل پاک) صرف انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام او فرښتې دي، د دوئي نه عِلاوه د هر اِنسان نه خطا کېدے شي، البته هدایت همېشه هغه مومي څوک چې خپله غلطي اومني او پۀ سنجیدګی سره د خپلې اِصلاح کوشش اوکړي۔ **پۀ حدیثِ پاک کښې دي:** كُلُّ بَنِيْ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ د هر اِنسان نه غلطي کېږي، پۀ غلطی کوونکو کښې بهتر هغه دے کوم چې توبه وکړي۔ [2]

حق خبره سمدستي قبوله کړئ!

د نېکانو خلقو دا عادت وي چې که هغوئي غلط هم نۀ وي، نو بیا هم د نېکی دعوت

---

[1]... تفسیر نعیمی، پاره:1، سورۀ بقرۃ، تحت الآیۃ:6، جلد:1، صفحہ:151 بتغیر قلیل۔

[2]... ابن ماجہ، کتاب الزُہد، باب ذِکرِ توبہ، صفحہ:689، حدیث:4251۔

سمدستي قبلوي- يو ځل حضرت مالِک بن مِغوَل رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته چا ووئيل: اِتَّقِ اللهَ! د الله نه وېرېږه---!! هغوئ پۀ عاجزۍ کولو سره سمدستي خپل مخ پۀ زمکه باندې کېښودو- [1]

پۀ تفسير قُرطُبي کښې دي: يو غېر مسلمه وو، د هغه څۀ حاجت وو، هغه به د خپل حاجت د پاره د خليفه هارونُ رشيد دربار ته تللو، ډېر وخت به يې انتظار کولو خو د هغه حاجت به نۀ اورېدلے کېدلو او نۀ به پوره کېدلو- د يو کال پورې هغه هم داسې د بادشاه دَر ته تللو راتللو- يو ځل داسې وشول چې هٰغه غېر مسلمه د بادشاه دروازې ته ولاړ وو چې پۀ دې کښې خليفه هارون رشيد پۀ اَس سور بهر راوتلو- غېر مسلمه پۀ تېز اواز ووئيل: اِتَّقِ اللهَ يَا اَمِيْرَالْمُؤْمِنِيْن! اے اَميرُ المُؤمِنينه! د الله نه وېرېږه---!!

بس دومره اورېدل وو چې خليفه سمدستي د اَس نه راکوز شو او د الله پاک پۀ حضور کښې يې سجده اوکړه- بيا چې کله د سجدې نه فارغ شو نو غېر مسلمه خپل حاجت پېش کړو، خليفه سمدستي د هغه حاجت پوره کړو- چا پوښتنه اوکړه چې عالي جاه! تاسو د يو غېر مسلمه پۀ خبره باندې دومره هر څۀ اوکړل---؟ د اَس نه راکوز شوئ، سجده مو اوکړه، بيا مو زر د هغه خبره واورېدله او حاجت مو ورله هم پوره کړو- خليفه ووئيل: نا---!! ما دا هر څۀ د يو غېر مسلمه پۀ خبره باندې اونکړل بلکې ما ته د الله پاک دا فرمان رايادشو چې

---

[1]... معجم صغير، من اسمه ابراہيم، صفحه:186، حديث:222۔

وَ اِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ (پاره:2، سورۀ بقره:206)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او چې کله هغه ته ووئيلے شي چې د الله نه وېرېږه نو هغه خپل ضد نور ګناه ته راپاروي-

بس ما حق خبره قبوله کړه او سجده مې اوکړه او د الله پاک نه د وېرېدو مې عملي اظهاراوکړو- (1)

دا دي حق قبلول---!! مونږ له هم پکار دي چې کله هم د نېکۍ دعوت راکړے شي نو د هغې اثر اخلو- مثلاً ❖ چا راته ووئيل چې وروره! نـمونځ اوکړه---!! اوس اګر چې تاسو نـمونځ ګزاره يـئ، پينځه وخته نـمونځ د جَمعې سره ادا کوئ، مسلمان ورور د نېکۍ دعوت درکړے دے---!! هغه قبول کړئ! پۀ نرمۍ سره ووايئ! ښه جي! زۀ يـې کووم- يا ووايئ! راځئ! زۀ هم ستاسو سره ځم ❖ چا د نېکۍ دعوت درکړو چې وروره درود شريف لوله! اګر چې تاسو درود شريف لولئ، بيا هم د نېکۍ دعوت قبول کړئ او سمدستي يو ځل درود شريف ولولئ! ❖ چا د الله پاک پۀ لار کښې د صدقې کولو ترغيب درکړو، اګر چې تاسو د مخکښې نه هم صدقه ورکوئ، د هغه پۀ ترغيب ورکولو که کېدے شي نو پکار دي چې يوه روپۍ هم وي، سمدستي يـې صدقه کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د نېکۍ د دعوت د قبلولو ثواب به مېلاؤېږي-

د عرش د سوري طرف ته زر تلونکے

د مسلمانانو د خوږې مور جانې، حضرت عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهِره رَضِيَ اللّٰهُ عَـنْها نه

---

[1]... تفسير قرطبي، پاره:2، سورۀ بقرة، زيرِ آيت:206، جلد:2، صفحه:15۔

روايت دے: يوه ورځ خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: آيا تاسو ته معلومه ده چې د قيامت پۀ ورځ به د الله پاک د عرش طرف ته پۀ تادیٰ سره تلونکے څوک وي؟ صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: الله او رسول ته ښه معلومه ده- وه يې فرمائيل: هٰغه خلق چې کله حق ورکړے شي نو هغه قبلوي- [1]

پۀ مِرآة المَناجيح کښې دي: د دې يوه معنیٰ دا ده چې هٰغه خلق کومو ته چې څوک حق خبره اوکړي نو هغه قبلوي او د بيانوونکي اِحسان اومني، د هغې پۀ قبلولو کښې شرم محسوس نۀ کړي، هٰغه خلق به د الله پاک د عرش سوري ته زر ورسېږي- [2]

الله پاک دې د عمل کولو توفيق را عطا کړي- کاش چې مونږ د نېکیٰ دعوت قبلوونکي جوړ شو- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

فتاویٰ رضويه موبائل ايپلي کښې

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کښې جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: **فتاویٰ رضويه (*Fatawa Razwia*)** ❖ پۀ دې ايپلي کښې د فتاویٰ رضويه ټول جلدونه شامل دي او د هر جلد نه لاندې د رسالو او موضوعاتو مختصر فهرست هم شامل کړے شوے دے ❖ د فتاویٰ رضويه ټولې رسالې (کومې چې د اعلیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه

---

[1]... الزهد لامام احمد بن حنبل، زہد عبيد بن عمير رَضِیَ اللهُ عنه، صفحه:449، حديث:2376۔

[2]... مرآة المناجيح، جلد:5، صفحه:365۔

د پوښتلے شوو سوالونو پۀ جوابونو کښې لیکلے شوې وې د هغې) بېل فهرست هم موجود دے ❖ پۀ ایپلي کېشن کښې ډېر ښکلے فیچر د ایډوانس سرچ (**Advanced Search**) دے، د کوم پۀ ذریعه چې د خپلې خوښې خبره پۀ اسانۍ سره سرچ کېدے شي، پۀ یو خاص جلد یا خاص رساله کښې هم د سرچ کولو سهولت موجود دے ❖ پۀ جلد منتخب کولو پۀ هغې کښې د خپلې خوښې صفحې (**Page**) ته تللے شئ ❖ د الفاظو فونټ سائز (**Font Size**) هم پۀ خپله خوښه ایډجسټ کولے شئ ❖ پۀ ایپلي کېشن کښې د خپلې خوښې خبره پۀ نوټس (**Notes**) فیچر کښې لیکلے او محفوظ کولے او د خوښې (**Favorites**) پۀ لسټ کښې یې شاملولے او شېئر (**Share**) کولے هم شئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان پۀ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: بغېر د عذر نه ګرمه ټوپۍ پۀ تندي باندې د ایښودلو سره نـمونځ کول مکروهِ تنزیهي دي۔

وضاحت: دلته پۀ پاکستان کښې د یخنۍ موسم دے، عام طور پۀ یخنۍ کښې ګرمه ټوپۍ پۀ سر کولے شي - مسئله پۀ ذِهن کښې کښېنوئ! ګرمه ټوپۍ داسې پۀ سر کول چې تندے پرې پټ شي، بغېر د ضرورت نه پۀ داسې حالت کښې نـمونځ کول مکروهِ تنزیهي (یعنې پۀ شرعي طور نا خوښه عمل) دے۔ آؤ! که ټوپۍ دومره پېړه وي چې تندے ترې پوره لګېدے

نۀ شي، د زمکې سختي نۀ محسوسېږي نو پۀ داسې حالت کښې به نـمونځ هم نۀ کېږي- ځکه بهتره دا ده چې داسې ټوپي وغېره د تندي نه لرې کړے شي او بيا نـمونځ اوکړے شي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د ګناه نه د بچ کېدو نُسخه (وظيفه)

سُورَةُ الْاِخْلَاص

څوک چې سحر 11 کرته سُورۀ اِخلاص لولي که چرې شېطان د خپل لښکر سره پۀ يو ځائے هم پۀ هغه ګس د ګناه کولو کوشش کوي نو هم به يې وه نۀ کړے شي، تر څو پورې چې دا ګس پخپله ګناه اونکړي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... فتاوٰی اہلسنت (غیر مطبوعه)، فتوٰی نمبر: Wat:1357۔

[2]... وظیفة الکریمه، صفحه:9و10۔